# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم*

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| | |
|---|---|
| زن پیشتاز | Vanguard Woman |


ژباړه: فرهاد وياړ
۰۵ مارچ ۲۰۱۶

## د ښځو سور پوځ

### نهمه برخه



د کمونيست ګوند د تدريس او لارښووني له امله د جونګ هوا او ملګرې هون ليان طبقاتي شعور ډير ژر لوړ شو. هغوي دواړو غوښتل د کمونيست ګوند غړي شي. هغوي په خپل غوښتنليک کي داسي وليکل:« زه به د زيارکښو طبقاتو د ژغورني او د کمونيزم پلی کيدو لپاره، خپل ټول شيان فدا کړم.»



يو کال وروسته، د چانکايشک ارتجاعي مرکزي پوځ يوه ډله ساتونکي هائی نان ته ورسيدل چي د سره پوځ آزاد شوی کلی **چونګ يا** نابود کړي. نان باتيان چي پټ شوی و او د همدې ورځي انتظار يي ويست، کله يي چي واوريدل چي د چانکايشک پوځ راځي، د هرکلي لپاره يي د نورو زورواکو زميندارانو سره ژر ساحل ته ورسيد.



په بلنه کې، نان باتیان د ډلې قوماندان ته د جوړجاړي وړاندیز وکړ، زمونږ پوځ باید د هائی نان دښمنانانو باندې یوځلی او ناڅاپی برید وکړي، که دښمن زمونږ د مرکزي پوځ له کارونو خبر هم شي، بیا هم د دې سیمې خلک او د هغوی شتمنۍ له دې ځای ایستلی نشي.



د ارتجاعي پوځ قوماندان سر وخوځو او وی ویل:«زما پوځ له چنانګ څخه هائی نان ته لیږدول شوی او زه کلک هوډ لرم چې د چونګ یا کمونیست ګوند نابود شي. د نان صاحب دا وړاندیز باید تر ارزونې لاندې ونیول شي چې د کینې او ښي دواړو خوا پر دښمن جلا بریدونه وکړو. نن شپه به په دې هکله د پلي پوځ سرګروپ ته امر ورکړم.»



کله چې د دښمنانو د برید اطلاع هون چانګ چنګ او د ډلې قوماندان ته ورسیده، ژر یې ساتونکي سور پوځ، دولتي مامورینو او د هغوی کورنیو ته هدایت ورکړ چې له هغه ځایه شاته شي. په همدې وخت کې پر آس سپور سیوری نیونکی راغی او د سیمې د قوماندان حکم یې هون چانګ چنګ ته ورکړ.



د لیک له لوستل وروسته هون چانګ چنګ وویل:«قوماندانه ته اول د نور ګروپونو سرتیري درسره واخله او د ځانګړې پوځي ډلې سره د دښمنانو شاته لاړ شه. د دریم ګروپ سرتیري او د ډلې کارکوونکي به د دښمنانو د راتګ د مخنیوي لپاره ما سره پولې ته لاړ شي.»



هون لیان د ټیپیانو ښځه په پاملرني بوخته وه چې جونګ هوا په منده د هغې خوا ته راغله او وې ویل: «هون لیان خورې له دې ځایه لیرې شئ!»



ټول ټپيان يې د کلي نه له ځان سره بيوتل، هون د ښځو د سره پوځ د آخري ډلې سره پولي ته ورسيده.



د لمر په راختلو سره د چانکايشک ارتجاعي پوځ د يلين کلی کلابند کړ او د خپل پوځ د ساتنې لپاره يې د ډزو باران پيل کړ. د ښځو پوځ دريم ګروپ چې د ساتنې او د دښمن د لارې بندولو لپاره غره کې راټول شوي و، څو ځله يې دښمنانو ته غابښ ماتونکی ماته ورکړه.



نان باتیان کله چې ولیدل چې د چانکایشک پوځ څو ځلې شاتګ وکړ، هوانګ چین شان ته یې وویل:«ته دې خپلې ډلې سره برید وکړه!» د هغې له حرکت مخکې نان باتیان د هغوې په روغتیا دری جامه شراب وڅښل.



هوانګ چین د خپلو لوټمارانو سره پر سره پوځ د برید لپاره د غره خوا ته روان شو.



کله چې د سرتیرو د ډزو باران پای ته ورسید، هون چانګ چنګ، جونګ هوا ته وویل اوس زمونږ کار خلاصیږي، ته د لومړي او دویمی ډلو، سرتیرو او ټیپانو سره ژر له دې ځایه لاړه شه، زه او دریمه ډله به ستاسو د خوندیتوب لپاره وجنګیږو. خو د جونګ هوا هیله دا وه چې په مورچل کې پاتې شي.



هون چانګ چنګ وویل:«سرتیری جونګ هوا، ګوند ته ستا او د هون لیان د شمولیت اجازه راغلی، اوس ته د پرولتاریا د لومړي کتار یوه سرتیری یې. که مونږ له دې ځایه په شاتګ بریالي نشوو نو ته او د ګوند ټول غړي یو پیاوړي او مبارزه لیکه جوړولی شي چې د جنګیدلو د مسوولیت په اخیستلو سره به تر بریا پوری وجنګیږئ.»



جونګ هوا په چرت او فکر کې وه چې لاړه شي که نه، هون چانګ چنګ  هغې ته وويل:«ته باید د کمونیست ګوند د غړي په توګه د خپلو لومړنیو دندو د منلو لپاره لاړه شئ.» جونګ هوا  په احساساتو سره د نقرې څلور سکې چې هغه ورکړی وی ښکاره کړی او وې ویل:«سرتیری هون! دا هم په ګوند کې له شمولیت وروسته زما لومړنی حق العضویت.»



کله چې جونګ هوا د خپلې ډلې سره لاړه، هون چانګ چنګ په ځیرتیا سره وکتل چې د هوانګ چین شان مزدوران د تورو سره د هغې خوا ته راځي. هغه ژر په خپل ماشیندار نښه ونیوله او مرتجع سر ډلې، هوانګ یې ووژو.



هونګ چین شان مورچل ته نارسیدلی ووژل شو، خو هونچانګ چنګ هم شدیداً ټپي شو.